# په کښتیو راغلیو کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره کلیدي پیغامونه

<u>اعلامیه</u>

د یکشنبې 12 فبروري 2023 د مهاجرت وزیر په کښتیو راغلیو پناه غوښتونکو او د دایمي ویزو په اړه یوه اعلامیه وکړه.

دا په هغو کسانو باندې پلي کیږي چې کله یې هم د TPV یا SHEV ویزه درلودلې وي او که چیرې دا ویزه لغوه شوې نه وي.

د 14مه فبروري 2023 څخه به د لږ شمیر خلکو څخه وغوښتل شي چې د دایمي ویزې لپاره غوښتنلیک ورکړي. اکثر خلک به د 2023 کال د مارچ تر وروستیو پورې د دایمي ویزې لپاره غوښتنلیک ور نه شي کړي. موږ په کلکه سپارښتنه کوو چې تاسو تر څو چې د RAILS مالوماتي غونډې ته تللي نه یاست یا د یوه وکیل سره خبرې مو نه وي کړې د وزارت سره اړیکه مه نیسئ. دا به ډیره اسانه وي چې تېروتنه وشي او دا ستاسو پر ویزه یا غوښتنلیک اغیزه کولی شي.

<u>RAILS څرنګه مرسته کولی شي</u>

په کوینزلینډ کې، RAILS به راتلونکي اونۍ (د 20 مه فبروري 2023 څخه) د ژبې د ملاتړ سره د مالوماتو ناستې ترسره کړي. زموږ د مالوماتو په ناستو کې، موږ به تاسو ته ووایو چې دا اعلامیه پر تاسو څرنګه پلي کیږي، RAILS څرنګه ستاسو سره مرسته کولی شي او تاسو باید نور څه وکړئ.

تاسو کولی شئ د دې اونۍ له چهارشنبه وروسته (د 15 مه فبروري 2023) زموږ د ویب پاڼې له لارې پدې غونډو کې ځای ونیسئ: https://www.rails.org.au/get-involved/events

همدا راز به زموږ په ویب پاڼه کې ژباړل شوې د حقیقت پاڼې هم ولرو: https://www.rails.org.au/education/tpv-shev-conversion
د مهاجرت وزارت هم د دوی په ویب پاڼه کې د Subclass 851 Resolution of Status (homeaffairs.gov.au) په اړه مالومات لري.

RAILS به وړیا قانوني مرسته چمتو کړي که تاسو ورته اړتیا لرئ. تاسو اړتیا نلرئ چې د مرسته لپاره یو وکیل ته پیسې ورکړئ.

<u>ایا تاسو باید د RAILS سره اړیکه ونیسئ؟</u>

موږ پدې وخت کې ډیر مصروف یو.

که تاسو په کښتۍ راغلي یو کډوال یا پناه غوښتونکي یاست او تاسو په تیرو 6 میاشتو کې د RAILS سره نږدې کار کړی وي، ستاسو د RAILS وکیل به تاسو ته زنګ ووهي.

د نورو لپاره، مهرباني وکړئ یوازې پدې وخت کې موږ سره اړیکه ونیسئ که:
- ستاسو اوسنۍ SHEV ویزه په راتلونکو دریو میاشتو کې پای ته رسیږي،
- تاسو یوه فزیکي، معیوبیت یا د ناروغي وضعیت لرئ چې ستاسو د کار کولو وړتیا یا ستاسو ورځني ژوند کې مداخله کوي،
- تاسو رواني ناروغي، معلولیت یا وضعیت لرئ چې ستاسو د فعالیت وړتیا سره مداخله کوي،
- تاسو بې کوره یاست یا د بې کوره کیدلو په خطر کې یاست،
- تاسو د کورنۍ تاوتریخوالی تجربه کوئ یا په دې وروستیو کې یوه د تاوتریخوالی اړیکه مو پریښودلې ده،
- تاسو د 18 نه کم عمر یا 60 کالو څخه ډیر عمر لرئ او دلته په آسترالیا کې د یوه کورنۍ ګروپ برخه نه یاست،

- تاسو (یا ستاسو په کورنی کې یو څوک دلته په کوینزلینډ کې) د نوي ماشوم تمه لرئ، یا
- تاسو په بهر کې یو ماشوم لرئ چې عمر یې د 17 او 23 ترمنځ وي.

برېښنالیک: pr@rails.org.au (غوره دی)
تلیفون: 07 3846 9333

که له پورتنیو څخه یو یې پر تاسو باندې نه پلي کیږي، مهرباني وکړئ پدې وخت کې زموږ سره د تلیفون یا برېښنالیک له لارې اړیکه مه نیسئ. مهرباني وکړئ د مالوماتو په غوندو کې (لکه پورته) ځای ونیسي. زموږ د مالوماتو په غونډو کې، موږ به تاسو ته ووایو چې دا اعلامیه څرنګه پر تاسو پلي کیږي، RAILS څنګه ستاسو سره مرسته کولی شي او تاسو باید نور څه وکړئ.

<u>ملاتړ، که تاسو اړتیا لرئ د دې په اړه خبرې وکړئ چې تاسو څنګه احساس کوئ</u>

موږ پوهیږو چې دا د اوږدې مودې اټکل شوي مالومات دي او خلک د ډېر فشار او اندیښنو سره ورته انتظار کولو. موږ پوهیږو چې د هغو خلکو لپاره چې اوس په آسترالیا کې د پاتې کیدو لاره لري د دې لپاره چې دا ژر تر ژره پیښ شي، ارامي او لیوالتیا شتون لري، او همدارنګه د پروسې په اړه او هغه څه چې پکې بنکیل دي اندیښنه لري. موږ پوهیږو چې د هغو خلکو لپاره چې لاهم په آسترالیا کې د پاتې کیدو لاره نه لري، دا اعلامیه به احتمالا د لا نورو کړاونو لامل شي.

د QPASTT اوسني موکلین هڅول کیږي چې د دوی د QPASTT کارکوونکي سره مستقیماً اړیکه ونیسي. QPASTT به د شکنجې او صدماتو څخه د ژوندي پاتې شویو کسانو لیدو ته دوام ورکړي پرته لدې چې د دوی د ویزې وضعیت په پام کې ونیول شي، په شمول د هغو خلکو چې په توقیف او تولنه کې دي. که څوک وغواړي چې د QPASTT خدمتونه وغواړي یا له چا سره خبرې وکړي چې دوی څنګه احساس کوي دوی کولی شي د QPASTT ملاتړ کرښه ته په 6677 3391 (07) د دوشنبې تر جمعه د سهار له 9 بجو څخه د مازدیګر تر 5 بجو پورې زنګ ووهي چې د یوه کارکوونکي مشاور سره خبرې وکړي.